د هائیکوګانو دویمه ټولګه

# څه یوه قیصه خو نه ده



محمد الیاس

څه یوه قیصه خو نه ده
چې یوه ناسته کښې وشي

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



# څه یوه قیصه خو نهٔ ده

(د هائیکوګانو دوېمه ټولګه)

محمد الیاس

ketabton.com - The Digital Library



# ټول حقوق د ليکوال په حق کښې دي


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | څه يوه قيصه خو نۀ ده<br>(د هائيکوګانو دوېمه ټولګه) |
| هائيکو نګار | : | محمد الياس |
| کمپوزنګ | : | ليکوال پخپله |
| دَ چاپ کال | : | ۲۰۲۵ء |
| تعداد | : | پنځه سوه |
| بيعه | : | ۵۰۰ روپۍ |
| د کتاب ډيزاين | : | سجاد روغانے |
| چاپ خانه | : | ګران خپرندويه ټولنه |

<u>د موندلو درکونه</u>

- ✓ اواز ملاکنډ ادبي ملګري ضلع ملاکنډ
- ✓ ګران خپرندويه ټولنه مينګوره سوات
- ✓ دمام پښتو ادبي بهير سعودي عرب

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

څه یوه قیصه خو نهٔ ده
چې یوه ناسته کښې وشي
ژوند بلها بلها خبري

ketabton.com - The Digital Library



# تړون

د پښتو ژبې د هائیکو اولني صاحب کتاب هائیکونګار

## ډاکټر اسماعیل ګوهر

په نامه

چې د هائیکو سره سره ئې د پښتو ادب په نورو صنفونو کښې هم
د پښتو ژبې نمائیندګي کړې ده



ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

د سندريزو هائيکوګانو تکړه هائيکونګار

د پښتو او اردو ژبې نوموړي شاعر

## ډاکټر اظهار الله اظهار

او

د طنز و مزاح منلےشوي هائيکونګار

## ښاغلي ساجد افغان

ته

د هغوي د هائيکونګارۍ د فن په خاطر ډالۍ



ketabton.com - The Digital Library



# د محمد الیاس الیاس ... څه یوه قیصه خو نهٔ ده

ژوند" د "لمحو " په قدمونو د مودو نه مخ په وړاندې روان دے. نهٔ په تنګ سترے کیږي او نهٔ لکه د ستړي مسافر دمه کوي نهٔ ئې باد و باران مخه نیولے شي او نهٔ ئې تورې تیارې د لارې خنډ جوړیدی شي ، نهٔ ئې د وخت زوراور ایساروله شي او نهٔ د چا زاري او منت اوري .." ژوند " د شپو ورځو یو کاروان دے چې لکه د ګهړۍ د ستنو په مزه مزه روان دے . ژوند یو داسې شے دے چې څومره زړیږي نو دومره نوے کیږي .. ژوند خوږ هم دے او تریخ هم دے . د ژوند بلها رنګونه او بلها قیصې دي او هر رنګ ئې د کتو او هره قیصه ئې د اوریدو ده خو د الیاس صیب خبره چې "څه یوه قیصه خو نهٔ ده " چې سړے ئې واوري

څه یوه قیصه خو نهٔ ده

چې یوه ناسته کښې وشي

ژوند بلها بلها خبرې

ketabton.com - The Digital Library



د محمد الیاس الیاس دغه مزکوره کتاب " څه یوه قیصه خو نۀ ده " په رښتیا د بلها خوږو قیصو یوه داسې منظومه مجموعه ده چې پکښې د هر مکتب فکر د خاوندانو د زوق او شوق د تندې د ماتولو پوره پوره خیال ساتلے شوے دے . کله کله خو قاري داسې محسوسه وي لکه چې یو مشر په حجره کښې ناست وي او خپلو کشرانو ته د خپل وخت د دودونو دستورونو ، ګودرونو ، اتڼونو ، د ټنګ ټکور د مېلسونو ، د مېلو او اخترونو ، د پټ پټونې ، ګولي ډنډا ، ګېډ خرګې ، انګۍ مل دې ځوک دے ، د شلغاتو او نورو لوبو قیصې راخستې وي . او کشران ورته غوږ غوږ وي ..

" څه یوه قیصه خو نۀ ده " د روایت او جدت د امتزاج نه جوړه یوه داسې ښایسته شعري ټولګه ده چې پکښې ئې د تمبل ، رباب ، شپېلۍ ، مېچن ، منګي ، ګرونج ، لونګۍ ، څادر ، د تورې ، نېزې ، لیندې او مچوغندې سره سره د نوي طرز د جازونو ، توپونو ، ټېنکونو ، بمونو ، د ښارونو ، کلبونو ، شرابونو او بېلا بېلو مشینونو تصویرونه هم په خوند خوند ځا ے کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library



محمد الیاس الیاس په دغه مزکوره کتاب کښې د ژوند په هر اړخ قلم چلولے دے داسې یوه اهمه موضوع به نۀ وي چې هغوي به پرې د کاغز سینه توره کړې نۀ وي او د کمال خبره خو دا ده چې چرته ئې هم د خیال خپه ښوېدلي نۀ ده ..

پښتو ژبه ، پښتونولي ، قام پرستي ، انسان دوستي ، همدردي ، اتفاق او مینه محبت د هغوي د خوښې موضوعات دي .

په فني لحاظ سره د الیاس صېب شاعري تر ډېره حده په فني لوازماتو پوره ده خو ولې بیا هم په ځینو شعرونو د ګوتې ایښودو ځاے شته د مثال په توګه الیاس صېب په خپل دغه کتاب کښې د" غزل نما هائیکو " د عنوان لاندې چې کومې هائیکوګانې لیکلي دي نو هغه غزل نما نۀ دي ولې چې د غزل د پاره مطلع او مقطع ضروري وي او په دغه هائیکوګانو کښې د دغه پابندو خیال نۀ دے ساتلے شوې

د مثال په توګه د الیاس صېب د یوې غزلیه هائیکو مطلعې ته ځیر شئ

ketabton.com - The Digital Library



تمام عمر ي صفاتو لره کم د ے

زۀ به کوم کوم ځا ے کښې چا چا ته کوٶمه

د جانان د ناز يوه قيصه خو نۀ ده

د دغه مطلعې وړومبۍ مصرعه که د درېمې مصرعې سره هم قافيه وې نو بيا به دغه د غزليه هائيکو د تعريف په تله پوره ختله او موجد (بابا ے غزليه هائيکو ) به ئې الياس صېب وۀ .خو ولې په دغه مزکوره کتاب کښې د دغه نه علاوه داسې نورې خامۍ په اوړو کښې د مالګې په څېر دي

دا خبره هم د منلو وړ ده چې الياس صېب په شعري اصنافو کې د تجرباتو کولو قايل او شوقين د ے او د هغې غټ ثبوت د هغه هائيکوګانې دي او زما په خيال الياس صېب وړومبنے شاعر د ے چې د غزل نما او نظم نما هائيکوګانو ليکلو ته ئې پام شو ے د ے .

زه د خپلې خبرې د پخلي د پاره د الياس صېب د دغه کتاب نه ځينې شعرونه د بېلګې په توګه راوړم د کومې نه چې به

ketabton.com - The Digital Library



لوستونکو ته د الياس صيب د علميت ، ژورې مشاهدې او فراخه مطالعې اندازه وشي

غټ ثبوت د تنزل زمونږه دا دے

ورله خپې وهو چې پړ مخې راپرېوځي

مونږه نۀ غواړو چې رور عزيز دې ښه شي

خلـق وائي دا زمـونږ بد قسمـتـي ده

خو زه وايم که په خپلو کښې يو ځاے شو

قسمتونه به پـخـپلـه مو خائيسته شي

هر ځاے د ظلم مخ نيوې د پاره

توان راله راکړه لږ د حق وئيلو

خدايه دوه رنګے رانه مۀ جوړوه

ketabton.com - The Digital Library



زۀ به څنګ نۀ خفه کېږم

ځاے په ځاے د سیند په غاړه

د کچرې ډېران چې وینم

نور په ممبر باندې ځان ستړے نۀ کړې

د مړ قارون دا قیصې پرېږده بس کړه

لږ په ژوندي فرعون خبرې وکړه

تعلیم په ښځه باندې هم فرض دے

خو دوي پرې بیا هم لګولي بندېز

څه جاهلان جوړې رسول نۀ مني

ketabton.com - The Digital Library



دا څو هائیکو ګانې مې هسې د نمونې په ډول رانقل کړې نور د هغوي ټول دیوان د دغه قسم نادرو ملغلرو نه ډک دے

بهرحال د الیاس صیب" څه یوه قیصه خو نۀ ده " د پښتو په شعري ادب کښې یوه ګټوره اضافه ده . او د دغه کتاب بنیادي مقصد مینه ویشل ، امن راوستل او د پښتنو ترقي ده

په پښتنه مینه او درنښت

دستار یوسفزے
اسسټنټ پروفېسر
ګورنمنټ ډګري کالج طوطه کان ملاکنډ
۲۰ جولائي ۲۰۲۵

ketabton.com - The Digital Library



# الياس خان يو نوے هائيکو نګار

د شعر ادب په دنيا کښې چې ټولنې نۀ وې ، نو چرته په لرې لرې سيمو کښې به خال خال شاعر پېژندلے کېدو، دغۀ رنګ چې ټولنيز ادب مېنځ ته راغے او د خيالونو فکرونو تکرار پرچار زيات شۀ ،نو يو خوا بل خوا شاعران راوټوکېدل، د علم تعليم او تکرار سره ادب ښکلې راټول او د څه اصولو پابند شۀ ، خو د بدۀ مرغۀ سوشل مېډيا د شعر ادب دنيا فکرونو خيالونۀ او ژبې ژباړې داسې وشاربلې چې اوس په کښې د ښۀ ،بد معيار او د خيال فکر د حقيقې خالق مالک پته نۀ لګې ، ځکه د بلها اختلاف لرلو باوجود د شعر معيارې دنيا کتابي تخليق دے ،چې د شور په ځائے شعور پيدا کوې ، دغۀ رنګ د ادب د نوي سوچ فکر املا متعلق هم دا خيال لرم ، که دغه سوانچه د ادب نۀ ووتل ،نو د شعر کليۀ ډېره عامه شوې ده او فکرونه شريک شوې دې ، ځکه به د ادب نۀ داسې څيز جوړ شي چې نۀ به راټولېږي، او نۀ به پرې زړونه راټولېږي.................

ketabton.com - The Digital Library



د شعر ادب ميدان يواځې د شاعرۍ په معيار وده نۀ کوې ، دا ميدان د ادب او ادب پالو سره د مينې لرلو په سوب وده کوې ، لکه زما د پورته خبرو مقصد دا دے ، چې زمونږ د ملکنډ ادينزي رانيزي په خاوره به په سلګونو خلک شعر ليکې ، او ښه به ليکې، خو دې به د مقصدي ادبي ميدان سره نۀ مينه لرې ،او نۀ به دغه ميدان ته ځي، ځکه ګلونه په چمن او خپل ټل کښې خوند کوې ، په دغه ښاغليو کښې يو نوم د محمد الياس خان دے ، چې زمونږ ترسنګ د طوطه کان کلي د يوې درنې پياوړې کورنۍ سره تعلق لرې ، د پلار نوم يې فريد الله خان دې چې يو ستر معلم وۀ چا چې په خيبر پختونخوا کښې په اول ځل د ملاکنډ په خاوره د ملګرو استاذانو د تنظيم بنياد ايخودې وو ـ او هم د دغه تنظيم (ملګري استاذان ملاکنډ) اولنې ضلعي صدر هم وو ـ روسته بيا د هيډ ماسټر په حېث د ريټائرمنټ پوري د سينيئر سټاف ايسوسي ايشن ملاکنډ صدر وو ،

الياس خان چې کوم خاص تخلص نۀ لرې ، شايد ځان شاعر نۀ تسليموې خو اوس مونږ او د ادب ميدان تسليم کړے دے ـ

ketabton.com - The Digital Library



محمد الياس پخپل ژوند کښې اصولي تعليم يافته او ساهو انسان دے ، کۀ شعرونو يې ډېر پرواز نۀ دے کړے، خو د ادب دنيا پرې ښائيسته ده ، يو معيار يو فکر پېژندل لويه لاس ته راوړنه ده ، ښکلې مقصدې ،شعورې ،تعميري شاعرې کوې او خوښوې ، يو ښۀ مثبت فکر خيال خپل شعر خپلې هائيکو ته سپارې ، د ادب په کشتۍ کښې رقم رقم رنګونه صلاحيتونه ليدل شي ، څوک يو شان بل شان خيال راوړې ، څوک پرې پوهېږې، داد ډاډ ورکوې ،دغه رنګ محمد الياس خان د ادبي کشتۍ حسن دے ــــ

د غزل او نثر مقصديت يې هم په ډاګه دے ،په لږ وخت کښې يې بلها تخليقي زيار وکړو، خو ځان يې يو څه په هائيکو هم وپېژندو ، بيا يې په هائيکو کښې اجتهاد هم وکړو، چې دې ورته غزليه هائيکو وائی ، خو زما په خيال دغه هايکوګانو ته قافياتي يا تسلسلي نوم سم ښکارې ، هائيکو چې د جاپان په حساب پينځه وۀ پينځه څپې لرې ، بيا پښتنو د يولس څپو دننه هائيکو خوښه کړېده ، خو محمد الياس په وۀ څپو کښې هم هائيکو ليکي ، دغه هائيکوګانې زما خيال ته ډېرې پربوځې او د وۀ څپو هائيکو ډېره تولۀ لګې ، چې الياس خان پرې لاس کتلے دے، مثال

ketabton.com - The Digital Library



خلک خبرۀم په دې
خدائے چې درله نۀ کوي
پير بابا به څه وکړي

د يولس څپو عامۀ هائيکو د ژوند په هر اړخ ليکي ، چې کوم خاص مقصد ولرې ، دغه رنګ يې د قافيو لړۍ لړۍ هائيکوګانې ليکلې دې ، د ژوند او جانان د خبرو علاوه ښاغلې د طنز ومزاح کوشش هم کړې دے۔ لکۀ وائی

وې ئې د يو لاس نه خو پړق نۀ خېژي
ما وے خبره دې په ګل بدله
خو زما کار څه دے چې لاس پړقۀم

دغه رنګ په يوه سنجيده هائيکو کښې وائي

دا مې همت وۀ چې ثابته مې کړه
د حوصلې بائيلل مې چرته زده و
شوم بريالے د ناکامو له وجې

ketabton.com - The Digital Library



د الیاس خان په هائیکوګانو کښې د هیت ښپو کمې بېشې مخې ته راځې ، خو کمال یې دا کړے چې هائیکوګانې یې په یو جدا ردهم کښې لیکلې ،او چې څوک یې هم کتاب لولې ،نو د کتلو نه پس به په کښې خامخا څه مقصد او مثبت سوچ لټوې ،

د محمد الیاس خان شاعرې او تخلیق به یو مقام ووینې ، خو د هغه شخصیت او ښه سړیتوب انسانیت په ما غونډے ډېرو ملګرو ځان منلے دے،

په یو نیم ځائے کښې داسې وروستو ښۀ یو
مونږه لا زوړ ائین لوستلے نۀ دے
دوي په کښې نوي ترمیمونه کوې

په ډېر درناوي
محمد ساجد افغان
نګرام کوز دیر

ketabton.com - The Digital Library



# د غزليه او نظميه هائيکو ګانو بابا ښاغلے محمد الياس زما په نيز

مونږ د پختون خوا په تاريخ نظر واچوو نو دې خاورې وخت په وخت په هر مېدان کښې داسې اتلان زېږولي دي چې د هر يو اتل خپله خپله ځانګړيتا او نامه ده ، لکه د مثال په توګه د پښتو ژبې نامتو او وړومبے شاعر امير کروړ چې په يو وخت به يې يو يو لښکر سره جنګېدهٔ، داسې ورپسې خوشال بابا چې د تورې او قلم خاوند بللے کېږي، په ټوله نړۍ کښې به د خوشال بابا په شان داسې سړے پېدا نهٔ شي چې هاغه ټول خاصيتونه پکښې يو ځاے شي کوم چې په خوشال بابا کښې په يو وخت کښې وهٔ،داسې د امير خمزهٔ خان شنواري چاته چې پښتو ژبې د غزل بابا وئيلے کېږي، چې په ژوند ورته د خپل قام لخوا دغه خطاب ورکړے شوے وهٔ ، بيا زمونږ د صوابۍ عبدالواځد ټېکهدار بابا چې د چاربېتې بابا ګڼلے شوے دے، يا داسې کهٔ مونږ وګورو نو

ketabton.com - The Digital Library



د قطعې بابا عبدالرحیم ګڼلے کېږي خو خبره لا په شک کښې ده ځکه چې د خاکې بابا ګل محمد بېتاب صېب راته خبره کړله چې د قطعې بابا ساحل منصبداري صېب پکار دے ځکه چې د هغه قطعې د شمېر نه بهر دي ، د خاکې د بابا خبره مې وکړه نو ګل محمد بېتاب صېب هم مونګ سره د ادب په مېدان کښې د خاکې بابا په نامه ولاړ دے، دا رنګې کۀ مونږ وګورونو په پښتو ژبه کښې مونږ سره نامتو شاعر ادیب استاد د طنز ومزاح بابا ماسټر شېر افضل افضل ګڼلے کېږي،

ما دا خبره هم دې ځاے له راوسته چې پښتو داسې بې موره بې پلاره نۀ ده چې ګنې نورو ژبو ترقي وکړه او پښتو ژبه د خوشال بابا هغه شعر چې پښتو هغه شان لا بکره پرته ده ،د هغې دلیل د الیاس صېب په شکل مونږ ولیدۀ چې په هائیکو یې طبع ازمائي وکړه کوم چې د جاپان یو زوړ صنف دے، د هائیکو ګانووړومبۍ ټولګه ئې د ،دېوالونو ته لګیا یم ، په نامه چاپ کړې ده ، او دادې دوئیمه ټولګه یې هم بیا ستاسو په لاس کښې ده،

ketabton.com - The Digital Library



هائيکو ما په وړومبي ځل د نن نه پنځلس کاله وړاندې د اجمل منصور يو هائيکو د لياقت تصور صيب نه اورېدلې وه چې

بيګاه مې خپلې ناوې ښځې ته وې
که پښتون خوا مې پښتون خوا شوه چرې
ستا لوپټې نه به ببرغ جوړؤم،

زه دا وائيم چې که چرې اجمل منصور ژوندے پاتې شوے وۀ نو خامخا به يې د هائيکوګانو ټولګه وه ، ځکه چې د هغه په هر يو کتاب کښې هائيکوګانې شته ، او بيا داسې هائيکوګانې چې لوستونکي ورته ګوته په خلۀ دي ، خو بيا هم زه ډېر خوشاله شوم چې ښاغلي الياس صېب په مسافرتيا کښې هائيکو له نوې ژبه ورکړه ، او د طنز ومزاح نه يې هائيکو راتېره کړه او مزاحمت سره سره يې هائيکو د سياست ،رومان، او د ډېرو عنوانو سره اشنا کړه ، او دا لا څه کوئ چې غزليه او نظميه هائيکو ګانې هم په پښتو ژبه کښې په وړمبي ځل متعارف کړې، ددې وجې نه ښاغلے محمد الياس صېب زه د غزليه او نظميه هائيکوګانو بابا ګڼم ځکه چې تر دې دمه زما په خيال څوک دا دعوه نۀ شي کولے

ketabton.com - The Digital Library



چې فلاني دومره غزليه او نظميه هائيکوګانې ليکلي دي او يا يې د غزليه او نظميه هائيکوګانو تولګه چاپ کړې وي  چې مونږ ورته د غزليه او نظميه هائيکو ګانو د بابا خطاب ورکړو

محمد قېصر خاکي
ايم فل سکالر پښتو څانګه
عبدالولي خان پوهنتون مردان

ketabton.com - The Digital Library



# خپلې خبرې

ملګرو راته وئيل چې په کتاب خپلې خبرې هم وليکه ما ورته وئيل چې خپلې خبرې خو ما ټولې په هائيکوګانو کښې کړې دي او بيا مې ورله ځه يوه قيصه خو نه ده نامه ورکړې ده کومه چې دا وخت ستاسو په لاس کښې ده او لولئ يې۔

خبر ملګري به مې ځه خفه کول۔ قلم مې راواخيستو او ليکل مې شروع کړه۔ زما د خپلو خبرو لنډه خلاصه دا ده چې دا کتاب ما د دې د پاره نه دې چاپ کړې چې خلق دې زما تعريفونه وکړي واه واه دې وکړي او زما نه هم ځان ورک کړي بلکې زما د کتاب د چاپ مقصد دا دې چې زمونږ ژبه وده وکړي نوره هم ښېرازه شي او د پښتنو لوستونکو پام هغه اړخونو ته راواړوم د کومو د وجې چې مونږ د بلها ستونزو سره مخ يو۔ اوس که د کتاب د لوست نه پس زمونږ په دغه ستونځو کښې لږ شان هم کمې راغلو نو زه به داسې وګڼم چې کتاب خپل هدف تر لاسه کړو۔

ketabton.com - The Digital Library



ما کوشش کړې دې چې کتاب کښې هغه هائيکوګانې ځائے کړم چې څه مقصد لري او د ټولنې د کردارسازۍ ، خوشحالۍ او پرمختګ ذريعه وګرځي ـ الله دي وکړي چې زما دغه سوچ د ټولنې د پرمختګ او خوشحالۍ د پاره قبوله شوې دعا وګرځي ـ امين

پہ ډېره مينه
محمد الياس
طوطه کان ملاکنډ

ketabton.com - The Digital Library



## هائیکو

کلـــه پښـــتو وکړمـــه نــاز پـــرې کـــوم
کلـــه پښـــتو کـــول پېغـــور شـــي راتـــه
څـــومره بلهـــا دي د پښـــتو رنګونـــه

## هائیکو

چـــې د یـــو بـــل ســـپوري پـــه کـــانو ولـــو
زمـــا پښـــتو کـــه ســـتا غـــرور وو وایـــه
د نفـــرت دغـــې حـــد تـــه چـــا بوتلـــو

## هائیکو

خـــدا ے خبـــر ښـــه وه او کـــه بـــده وه خـــو
تالـــه درتلـــم پـــه ننـــواتي بانـــدي
بېرتـــه خپـــل ځـــان خپلـــې انـــا تـــه بـــوتلم

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

ته جوړې خفه وې خوا له نه راتلې
ښه وشوه چې زه خو درله دراغلم
تا سره پښتو جانانه نه کېده

مونږ چې خبرېدو نو قیصه ختمه وه
وینې بې ګناه پکښې توې شوې وې
دا د پښتنو په خاوره څه کېده

ځو مره په ښکاره ئې رانه غلا وکړه
زړه زما په زړه کښې پاتې نه شولو
سترګو ته په سترګو کښې کاته کېده

ketabton.com - The Digital Library



وجـــه پکښـــې دا وه خـــود غـــرض نـــه وو
مـــینې محـــبت او د خـــلوص نـــه ډک
داســـې چـــې زمـــونږه تلـــه راتلـــه کېـــده

هاغـــه د وصـــال لحظـــه لـــه تـــا ســـره
څومـــره بختـــوره وه زمـــا د ژونـــد
مـــا تـــه بـــه چـــې ســـتا پکـــښې قیصـــه کېـــده

داســـې ښـــکارېده چـــې نیـــت ئـــې ښـــه نـــه وو
تاســـو تـــه بـــه پتـــه وه کـــه نـــه وه خـــو
مـــا تـــه ئـــې د خیـــال نـــه اندازه کېـــده

ketabton.com - The Digital Library



ورشـــئ غمـازانـــو تـــه مـــې اوايـــئ
زه جـــوړې د چـــا د سترګـــو تـــور يمـــه
پـــاس چـــې د بلـــۍ مـــې ننـــداره کـــېده

زه پـــه نـــا خبـــرو کښـــې پـــرې وراغلـــم
مـــا وئېـــل حـــاجي صـــېب مبـــارک دې شـــه
هلتـــه پـــه حجـــره کـــښې لاس نيـــوه کېـــده

يـــا چېـــرته بـــدن کښـــې ناروغـــي بـــه وه
يـــا چېـــرته موســـم بـــه د يخـــنۍ وو نـــو
دا چـــې بـــه مـــې هـــر وخـــتې ساړه کېـــده

۱۱ جنوري ۲۰۲۴ دمام سعودي عرب

ketabton.com - The Digital Library



# نظمېه هائيکو

## ( د اليکشن ورځي )

غريبــــو يـــــو بــــــل تــــــه وې
ځــــئ چــــې تــــروړه تــــرې راوړو
دا د راشـــــــن ورځـــــــې دي

ســــتا ملګرتيـــــا بــــه کــــوؤم
پکښــــې حصـــــه مــــې وکــــړه
د کمېشـــــــن ورځــــــې دي

هـــــره ښــــادۍ کښــــې حاضـــــر
ليـــدړ يـــم غــــم لـــــه ځمــــه
ثــــه د فېشـــن ورځـــې دي

ketabton.com - The Digital Library



ځانلـــــــــه ملګـــــــــري ګـــــــورم
زه غلــــــــــې نــــــــه کښــــــــېنمه
دا د بهاشــــــــــــن ورځـــــــــــې دي

نــــــــزدې کوۀمـــــــــه ځانتـــــــــــه
خلــــــــق د ژبـــــــــــې پـــــــــه زور
د الیکشــــــــــــن ورځـــــــــــــې دي

یـــــو ځــــــاے ئـــــې داســـــې وېلـــــه
درتــــــــــه ســــــــــړک وباســـــــــــم
د رنــــــــګ روغـــــــــن ورځـــــــــې دي

ketabton.com - The Digital Library



د مـــــــداریانو پـــــــه رنـــــــګ
پکښـــــې فنکـــــار شـــــي هـــــر یـــــو
ښـــــکلې د فـــــن ورځـــــې دي

د یـــــو ســـــړي د پـــــاره
لګیـــــا دي څـــــه څـــــه وائـــــي
د یوشـــــتمن ورځـــــې دي

الیاســـــه زر زر وکـــــړه
پـــــه دې نظـــــام نیـــــوکې
بیـــــا د قـــــدغن ورځـــــې دي

۱۵ جنوري ۲۰۲۴ دمام

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

کــه رښـا وخــت ورســره هــم وکــړي خــو
دنیـا ئــې نــه منــي پــه یــو صــورت کښــې
د املوکـــانو تـــول کښــــې راشـــي ســـړے

## هائیکو

ولاړه نــــۀ وه چــــې پوســــتونه وشــــول
بیــا پـــه پوســـتونو کمنتونــــه وشـــول
شـــکر دې خبـــر شـــو زلزلـــه وه تېـــزه

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

اوس هم شته د ے خلق د فرعون په شان
ځان ته په دنيا کښې چې خدايان وائي
خدايه لږ په کبر ئې راونيسه

څوک چې زوروي مو بې ګناه خلق
څوک چې قتل عام د پښتنو کوي
خدايه په د ے جبر ئې راونيسه

ظلم او زياتے ورسره کېږي چې
بيا هم د ظالم خلاف څه نه وائي
خدايه په د ے صبر ئې راونيسه

ketabton.com - The Digital Library



لار کښې پښتنو ته ناکې جوړې کړې
بیا ورله جېبونه بډې وځاري
خدایه په دې امر ئې راونیسه

# قافیاتي هائیکو ګانې

فتوې د کرکې به ختمېږي رو رو
چې د عربو ملک ته لوبې راغلې
جدت به خامخا په دین کښې راځي

د ترقۍ په لار به هله ځو مونږ
د داسې کس نه چې هم جوړ کړو سړے
چې نه په تبره نه په تین کښې راځي

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

تمام عمر ئې صفاتو لره کم دے
زه به کوم کوم ځاے کښې چا چا ته کوؤمه
د جانان د ناز یوه قیصه خو نه ده

د خاموشه مزاج یو سبب مې دا دے
سمندر غونډې بلها پکښې پراته دي
پټ په زړه د راز یوه قیصه خو نه ده

په مخلوق کښې د کمال درجې ته لاړم
چې په یو زړه کښې رابند مې کړه دا دواړه
حقیقت مجاز یوه قیصه خو نه ده

ketabton.com - The Digital Library



د غــه ښـــار تـــه مـــې زړه هســـې مـــائل نــه د ے
د جانـــان نســـبت بـــه خامخـــا پکـــښې وي
د یـثـــرب حجـــاز یـــوه قیـــصه خـــو نـــه ده

د پښتـــون د پـــاره زړه مـــې هـــسې شـــین کـړو
اتـفــاق ئـې پــه دې کـړ ے چـې بــه بېـل یــو
د ټپــوس او بـــاز یـــوه قیـــصه خـــو نـــه ده

پــه غـربـت پـــورې مـــې څـــه کـــوې ملـنـــډې
د غـــټ زړه فـــراخ تـنـــدي نـــه مـــې خبـــر یـــې
څـــه د پیـــاز او نیـــاز یـــوه قیصـــه خـــو نـــه ده

سـر او تـال بـه پکښـې وي خـو زور او شـور هـم
د الیـــاس د ژونـــد خبـــره لـنـــډه داســـې
د نـغـــمو او ســـاز یـــوه قیصـــه خـــو نـــه ده

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

که ئې په خوے کښې عاجزي نه وه نو
دا خلق به کوي چې وا یې ورته
ورک ئې کړه دا څه د فرعون بچے دے

# هائیکو

زه په خپل ځان باندې باور لرمه
چې څه کومه به ډاډه پرې ورځم
که ګران وي هم ځان ته اسان کړمه کار

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

چا زما د حال پوښتنه کړي ده
غم د خپل اولس کوم که بل څه دي
غلے غلے ګرځم د څو ورځو نه

# هائيکو

ويستم دې څه له وايه
چې اوس مې بيا راولې
زه ئې هډو کومه نه څه*

* هائيکو کښې د پاکستان پخوانې وزيراعظم نوازشريف اسټيبليشمنټ ته ګيله بيانوي چې تاسو مخکښې زما حکومت ولې ختم کړې وو چې اوس مې بيا راولئ - اسټيبليشمنټ بيا غواړي چې ن ليګ دې په اقتدار کښې راشي
۳ مارچ ۲۰۲۲

ketabton.com - The Digital Library



## هائیکو

زه امریکـــه زمـــا پـــه دې کښـــې څـــه دي
دا ئـــــې خـبـــــره ده د کـــــور دننــــــه
باچـــا دې خپـــل ځانلـــه پخپلـــه ګـــوري**

فروري ۲۰۲۴ ( دمام سعودي عرب)

## هائیکو

دلتـــه کـــه ښـــه دلتـــه کـــه بـــد کېـــږي
زمـــا پـــه خـــاوره دې زمـــا اختیـــار وي
دا ډونلـــډلو پکښـــې کـــار ولـــې ساتي *

---

** که څه هم امریکه زمونږ د وطن د حاکمانو په جوړولو او ختمولو کښې برابر لاس لري، خو هائیکو کښې د امریکې سیاسي بیان ته اشاره شوي شوي چې پاکستان باید خپل وزیراعظم پخپله وټاکي.

* ډونلډلو- دجنوبي او مرکزي ایشیا د روانو چارو د پاره امریکې له اړخه مرستیال وزیر

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

تعليم په ښځه باندې هم فرض دے
خو دوي پرې بيا هم لګولې بندېز
څه جاهلان جوړې رسول نه مني !

# هائيکو

دغه د * لوټې لوټې ناټ * قيصه وه
د امريکې اخبار کښې داسې راغله
چې عمران خان ئې بې ګناه نيولے**

** Absulotly Not د امريکې په حقله د عمران خان بيانيې ته اشاره

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

شکر دے خوشحاله یم په دې باندې
زه چې ئې دا بر نا حقه بدي شم
څه نه څه به خامخا شهرت لرم

څنګه به په ژوند کښې راغورځېږمه
یو راته ابۍ په دعاګانو ده
بل مې زه په سر د بابا چت لرم

ځئ چې د مظلوم په څنګ کښې ودرېږو
ځئ چې غاصبان د ښاره اوباسو
زه هم په سوچونه کښې شدت لرم

ketabton.com - The Digital Library



شکر دے چې دومره پښتو شته راکښې
دوي مې د اقدارو قدر نه کوي
څنګه به د دوي سره قربت لرم

دلته که مې وس دربانديبر نه شو
هلته د ګړېوانه به دې نیسمه
کلکه عقیده په اخیرت لرم

هسې دا خوږې خبرې نه کومه
دا به مې په ژوند کښې خوش بختي وي نو
مېنه چې په خیال کښې د فطرت لرم

یو خو زه د خوي نه ښه سړے یمه
بل مې د هوښیارو سره ناسته ده
ځکه مې د فن قدر قیمت لرم

ketabton.com - The Digital Library



هســـــې ابدالـــي بانـــدي نازیـــږم نـــــه
دنیـــا تـــه ئـــې مړانـــه زمـــا اوښـــوده
ښـــکلې شـــان تاریـــخ د پانـــي پـــت لـــرم

دا دې هـــــم خالقـــــه نعمتونـــــه دي
پربېـــږده چـــې دنیـــا تـــه ئـــې ښـــکاره کړمـــه
تـــن کښـــې کـــاټني جـــامې د بـــت لـــرم

ژبـــې زه الیـــاس دې ترجـــمان یـــمه
ســـتا د روایاتـــو خیـــال ســـاتلے شـــم
تاتـــه پـــه افـــکارو کښـــې جـــدت لـــرم

۲۳ جنورې ۲۰۲۳ دمام

ketabton.com - The Digital Library



# قافياتي هائيکو ګانې

په احتجاج کښې د ګرانۍ په خلاف
ګډون مې نه کوو په دغه وجه
زما پارټي په اقتدار کښې وه نو

پردې مزدور يمه دا ځکه ځمه
زه به ډيوټۍ ته په وخت ولې تلمه
که نوکري مې په سرکار کښې وه نو

نه په راتلو کښې ئې پوښتنه وکړه
نه ئې په تلو کښې وې چې لاړمه زه
هغه څه ډېره په تلوار کښې وه نو

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

غــــټ ســــبب د تنــــزل زمــــونږه دا د ے
ورلــه پښــپې وهــو چــې پرمخــي راپربــوځي
مــونږه نــه غــواړو چــې رور عزیــز دې ښــه شــي

# هائیکو

خلــــق وائــــي دا زمــــونږ بدقسمتــــي ده
خــو زه وایـم کـه پـه خپلو کښې یـو ځـا ے شـو
قســمتونه بــه پــخپلــه مــو خائیســته شــي

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

څــو ډانګــه دنیــا ده تپــوس مــه کــوئ
حــق درتــه پخپلــه راښــکاره بــه شــي
لــږ کـه د وهمونـو نـه راووتـئ

# هائیکو

خــدا ے خبــر چــې څــه بــه وي د دې ســزا
مــا پــه شــاعرۍ کښــې بــدعت اوکړلــو
نظــم تــه مــې نــوے خیــال راوړے دے

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

څه يوه قيصه خو نه ده
چې يوه ناسته کښې وشي
ژوند بلها بلها خبرې

# هائيکو

ستا د يادونو چم کښې ژوند تېرېدو
خو چې اوس ته ورپکښې نه يې اشنا
خومره په ګرانه به ترې کډه کووم

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

چرته پښوا به مار چېچلے وے نو
ما چې په پړي به ګېډے ترلو
تابه څه بل شاني ټوپونه وهل

# هائيکو

لاس دې ازاد چې څه کوې نو وکړه
زه چې ډاډا په هر ډګر لګيا ووم
دا به په شا مې چرته خپل ولاړ وو

ketabton.com - The Digital Library



# هائيكو

که ئې هر چا له ورکړې
ۀب ئې بوتانو له ځي
د ووټ نه لرې ښه يې

# هائيكو

مسافري په بل وطن کښې ځانته
د زړه په زور اسانه کړې مې ده
ګنې د وسپنو نينې چېچل دي

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

بغیر دده نه د هر چا چهتي ده
دے پکښې نن هم اموخته دے په کار
د مزدورانو نړیواله ورځ ده

# هائیکو

هر ځاے د ظلم مخ نیوي د پاره
توان راله راکړه لږ د حق وئیلو
خدایه دوه رنګے رانه مه جوړوه

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

بغېـر لـه تـا نـه بـل خـوا نـه شـومه تلـے
ســتا د يــادونو ســره ژونــد وو زمــا
څـــومره پـــه نـــاز زمـــا پالنـــه کېـــده

چـې پرمختـګ وکـړي پښتـون بچـي مـې
چـــې د نـــړۍ ســـره ســيالي وکـــړي دوي
دغـــې تـــه چرتـــه پاملرنـــه کېـــده

زمـــا د نـــوم پکښـــې چرچـــه کېدلـــه
زمـــا نـــه خلقـــو پکښـــې ځـــان ورک کـــړو
چـــې د کتـــاب مـــې مـــخ کتنـــه کېـــده

ketabton.com - The Digital Library



د رنـــګ وطـــن د چلېـــدو پـــه غـــرض
دوي بـــه د خپـــل اختیـــار ســـړي راویســـتل
چـــې چرتـــه چرتـــه بـــه ټاکنـــه کېـــده

ســـوات پېښـــور کـــه بـــاجوړ ملګـــرو
زمـــا بـــه زړه چاودلو څـــه خبـــر یـــې
کـــه پـــه شـــانګله کښـــې بـــه چاودنـــه کېـــده

دغـــه ســـړے پکښـــې ککـــړ وو خپلـــه
د چـــا د خـــولې نـــه چـــې پـــه ټـــي وي ســـړو
د دهشـــت ګـــرد ســـړي غندنـــه کېـــده

ketabton.com - The Digital Library



دومره څوک نشته چې تپوس وکړي
د روند نظام او ګونګ قاضي د وړاندې
د خوار غریب د حق وهنه کېده

په عسکري جامه دې نه نازېدم
ته زما قام وژنې په دغه وجه
ستا نه به کرکه مې پمنه کېده

لار کښې تپوس رانه کېدو چې څوک یې
په خپل وطن کښې مې هم داسې حال دے
د جیب او بدې مې څارنه کېده

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

وبلـــه ئـــې دلتـــه چـــا شـــل کـــړې نـــه ده
مـــا وې روژه کښـــې پســـې کلـــي تـــه ځـــم
هلتـــه پـــه هـــر جومـــات کښـــې شـــل کېـــږی

# هائیکو

زه بـــــه ځنـــــګ نـــــه خفـــــه کېـــــږم
ځـــــاے پـــــه ځـــــاے د ســـــیند پـــــه غـــــاړه
د کچـــــرې ډېـــــران چـــــې ویـــــنم

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

ویمه چې سیال دې وي پښتون په دنیا
په دغه سوچ کښې مې خلل راولي
خدایه کانه کړې د شیطان غوبونه

# هائیکو

ستا د لیدو تاب مې منم چې نشته
زړه لیونے مې راته داسې وائي
غوارم چې زه دې مخامخ او وینم

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

تــا تــه کـــتو کـــتو کښــېِ پـــوهه شـــومه
سترګـــو کښـــې دومـــره رڼاګـــانې دي وې
چـــې مـــا دي زلـفـــو تـــه مانبـــام وئيـــلو

چرتـــه چـــې ســـتا بـــه پکښـــې ذکـــر کېـــدو
چرتـــه چـــې تـــه بـــه جلـــوه ګـــر وې پکښـــې
هـــر هغـــه ځـــا ے تـــه مـــې مـــرام وئيلـــو

ټيـــک ده چـــې تـــا ســـره مـــې مېنـــه ده خـــو
پـــه عقيـــده کښـــې هنـــدو نـــه يمـــه نـــو
تـــا تـــه بـــه څـــه رنګـــې مـــې رام وئيلـــو

ketabton.com - The Digital Library



پــــه خپــــل زوال بانـــــدي ونــــه ژړېــــدل
پښـــتون د ځــان لپــاره یــو نــه شــو نــو
دوي تــــه بــــه هــــم لا خلقــــو قــــام وئیلــــو

تېــک ده ســاده یــم خــو خبــر یمــه تــرې
دواړو کښـــي کېـــف وو د یـــو بلـــه جـــدا
شــــونډو تـــه څنګـــه بـــه مـــې جـــام وئیلـــو

دا پــه وجـدان کښـې مـې سـتا خیـال بـه وو نـو
ســـتا ســـره مېنـــه پـــه جبلـــت کښـــي مـــې وه
احســـاس تـــه هســـې مـــې الهـــام وئیلـــو

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

ناشکـــري هـــم د بـــې ننګـــۍ غونـــدې ده
خـــدایه چـــې ډېـــره تېـــره راکـــړه دې نـــو
ښـــه کومـــه ځـــان چـــې پکښـــې ښـــه ساتمه

محـــبت راســـره وکـــړئ خـــلقه راشـــئ
ائینـــې غونـــدې صفـــا یمـــه ریښـــتیا وېـــم
د زړه خـــبـــرې مـــې پـــه خـــله ســـاتمه

پـــه ملګرتیـــا کښـــې مـــې هـــم دا ایمـــان دے
چرتـــه د ځـــان ســـره پـــه ســـترې ژونـــد کښـــې
دلـــه دوؤس ســـړے بـــه نـــه ســـاتمه

ketabton.com - The Digital Library



ځان به سېزم د بل به هېڅ ونه کړم
ځکه هر چا ته وېم چې مه کوئ دا
زړه کښې به څنګه سخا کینه ساتمه

زما نازونه به ئې وړل په خندا
اوس زه لوے شوے یمه خامخا به
هسکه د خپل بابا شمله ساتمه

څومره ساده یم ځان له کار ګورمه
په دې دورنګه زمانه کښې چې هم
الیاس پاګل د خلقو زړه ساتمه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

زر د ایمـــــان ســــوال د الله نـــــه وکـــــړم
دا مــــې رورو د مرګــــي خوالـــه بیـــائي
ټکـــار چـــې واورم د ګهـــړۍ د ســـتنې

# هائیکو

چـــې مـــې زخمونـــه ژړاګـــانې بـــس کـــړي
پـــه ګـــل وطـــن کښـــې چـــې ســـپرلې شـــي خدایـــه
داســـــې وختونـــــه بـــــه لا کلـــــه راځـــــي

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

هاغـــــه منظـــــر د هېرولـــــو نـــــه و
پــه لــږ ســاعت کښــې ئــې لونــد کــړے وومــه
څـــــو مره ښائســـــته د پشــــکال بــــاران و

# هائیکو

چـــې مېخانـــه مـــې پرېښـــودله پســـې
تلمـه سـجدو لـه د جمـات پـه لـورې
خدایــه نــو ســتا ســره بــه مېنــه مــې وه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

ځـــئ چـــې د ممبـــر د پـــا څـــه اووایـــو
چـــا کـــه پـــه ناحقـــه د چـــا مـــرګ وکـــړو
دا د ے د پـــــــوره انســـــــانیت قتـــــــل

# هائیکو

تـــا ســـره پـــه خیـــال کښـــې ګرځېـــدلے ووم
جـــام راســـره نـــه وو او خمـــار وومـــه
دا مـــې جوړنشـــه پـــه سرکښـــې خپلـــه وه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

نور په ممبر باندې ځان ستړے نه کړے
د مړ قارون دا قیصې پرېږده بس کړه
لږ په ژوندي فرعون خبرې وکړه

# هائیکو

زه چې دا خوار ګرځمه
سبب یې دا دې چرته
بې اتفاقه به یو

ketabton.com - The Digital Library



## هائيکو

ورتــــه لګيـــا يمــــه خـــو نـــه ئــــې منــــي
د لتـــــو بــــت ترېنــــه جــــوړ شــــوے دے ســـم
وېـــم چـــې لـــــوړ تــــه پســــې ګـــوتي کړمـــه

## هائيکو

پــــه مــــونږ قـــدغن پـــه دې خبـــره و چــــې
مــــونږ د ټوپـــــک د مـــــخ نيـــوي د پـــاره
لاس کښــــې نيــــولې د مرغــــو لينـــــده وه

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

په يو نيم ځائے کښې داسې وروستو ښۀ يو
مونږه لا زوړ ائين لوستلے نۀ دے
دوي پکښې نوي ترمېمونه کوي

# هائيکو

خدايه د چا نه به ګيله کومه
يو د دشمن سره مې رور ولاړ و
بل تماشه کښې تماش بين مې خپل و

ketabton.com - The Digital Library



## هائیکو

کـه غلطـه وېـم پـه ژبـه دې چـاړا شـم
زه د خپـل حـدونو هلـه خبـردار شـم
نمـر چـې د اسـمان مـورګې لـه راولـم*

## هائیکو

زه چـې سـپین ګیـرې شـومه څـه وجـه ده
چرتـه بـې ځایـه تجسـس کوؤمـه
کنـه پـه سـر د ژونـد کارونـه مـې دي

* نمر د اسمان مورګې لـه راوستل هغـه لحظې تـه اشاره ده چې یـو نېـویګېټر د سکسـټېنټ پـه وسـیله د نمـر عکـس د افـق یعنـې د اسـمان مورګې سره برابـر کـوي د سمندري نېویګېشـن د پـاره دا یـو ډېـرمهم ګـام دے د کـومې پـه ذریعـه چې یـو نېـویګېټر خپـل عـرض البلد یعنـي ځـاے زېـږے معلوموي.

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

عقل بصيرت ته ئې حېرانه يم
زه چې پښتونخوا کښې قتل کېږمه
هېڅ د کشمېريانو سره غم نه وي

چا ته هم په سپکه کاته نه دي ښه
څنګ به د ټولنې سره ژوند کوؤ
مونږ کښې که نايي سړے او ډم نه وي

داسې په جرګه کښې پرېکړه وشوله
زه چې په پردي جنګ کښې مړ کېږمه
نور به د غه ظلم دا تور تم نه وي

ketabton.com - The Digital Library



دې بانــدې خفــه نــه شـــې کــه نــه کېــده
بــس خــو د کتــاب نــه پــاتې نــه شــي نــو
لاس کښـــې د بچـــي کــه دې خپــر مــم نــه وي

بلـــــه د جـــــرګې خبـــــره دا ســــــې وه
دلتــه ټوپــک مــار ســړے بــه نــه اوســې
نوربــه دهماکــه دلتــه کښــې بــم نــه وي

څــه رنګــه بــه وايــو چــې مــونږ پوهــه يــو
څــو چـــې مېنــه ونــه کــړو کتــاب ســره
څــو چــې مــو پــه لاســو کښــې قلــم نــه وي

ketabton.com - The Digital Library



ستا د مېخانې اداب مې نه وو خوښ
ذهن کښې نشه پښتونولي ساتم
خبر دے که مې لاس کښې جام جم نه وي

لږ الياسه خپل ګرېوان ته وګوره
نورو ته به څنګه نصيحت کوے
څو چې دې دا خپل کارونه سم نه وي

# هائيکو

يا رانه نفرت کښې انتها لرے
يا جوړې په زړه دې راوربړمه
ستا چې د خبرو محور شوے يم

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

ځانلـــــه تقـــــدير ولېکـــــئ
څــــومره چـــې کوشـــش کـــوئ
هـــــومره بـــه نصـــيب لـــــرئ

# هائيکو

د ذلـــت ســـره بـــه نـــه مخـــامخ کېـــږې
راز پـه زړه کښـې د رازدان پـه شـانې ځـاے کـړه
کــه اعتبـــار چرتـــه بـــاور دربانـــدې وشـــو

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

هسې به خوشحال بابا ويئله چې
هرسړے پيدا دے خپل خپل کار لره
ځکه پښتانه د يو بل پښې وهو

# هائيکو

دا مې کمزوري به وه ريښتيا وايم
زه د غټو غټو نه و يرېږمه
خوارو سره هر ځاے کښې په جنګ يمه

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

پکښې د عامو خلقو خبر که نه وي
چې شپږویشتم د ے او که بل څه د ے خو
زه په آئین کښې د ترمیم خلاف یم

زه څه ولې د زمانې خو نه یم
چې مفادات مې په خطر کښې وینم
چرته پوره چرته ئې نیم خلاف یم

ما چې خبرې سپینې سپینې وکړې
شوکاز ئې راکړو ویئل ئې نه ئې پکښې
تور په ما دا و د تنظیم خلاف یم

ketabton.com - The Digital Library



ډلـــه بـــازۍ تـــه پکښـــې لار جـــوړه شـــي
هـــم پکښـــې يـــو بـــل لـــره پښـــې وهـــي بيـــا
ځکـــه پـــه ټـــیم کښـــې زه د ټـــیم خـــلاف يـــم

راغونـــــډوي چـــــې د لســــــتونې مـــــاران
نـــور بـــه پـــه ژونـــد ئـــې چرتـــه نـــه غـــړوؤم
زه پـــه راګونـــو کښـــې د بـــیم خـــلاف يـــم

خـــدا ے خبـــر کلـــه بـــه يـــو کېـــږئ تاســـو
اقتصــــادي ده سياســــي کــــه نســــلي؟
پښــــتنو ستاســــو د تقســــيم خــــلاف يــــم

ketabton.com - The Digital Library



د خپــــل غـــــرض لپـــاره ګـــوره کنـــــه
لګيـــا دے ګرځـــي او نفـــرت خـــوروي
زه د غمـــاز زه د غلـــيم خـــلاف يـــم

وائـــي دنيـــا تـــه تهـــذيب مـــونږ ښـــودلے
لکـــه دا نـــن چـــې يـــو کـــه داســـې وي نـــو
د دې تهـــذيب د دې تعلـــيم  خـــلاف يـــم

ټيـــک ده ښـــکلا ده خـــو معنـــا بـــدلوي
ح تـــه چـــې خ وائـــي دا ښـــه نـــه کـــوي
ج تـــه چـــې ګ وائـــي د جـــيم خـــلاف يـــم*

ketabton.com - The Digital Library



په نر او ښځه باندي یو شان فرض
دا درته چا چرته دروغ ویلي دي
الیاس د ښځو د تعلیم خلاف یم

* د صوابۍ خلق ح ته خ وائي لکه حاجي ته خاجي او داسي نور دغسي د مصر خلق ج ته ګ وائي ـ د مثال په توګه جده نو ګده ، جمال نو ګمال دا ډول بدلونونه د ژبي د ژوند نښي دي ژبه تل بدلیږي، له خلکو، کلتورونو، او جغرافیي سره. خو دا هم مهمه ده چي د معنی او اصل احترام وساتلی شي، ځکه ژبه یوازي غږ نه دے، بلکي د فکر، احساس، او تاریخ وسیله ده.

# هائیکو

خلق ئي د جنګ په چال خبر دي وس
خلق ورله نوره ګوري نه مني
امن ته اوس لار اسانه شوي ده

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

خبره په خبرو ختمېدله، خو
ته د مرچکي په سته ناست وے نو
اوس دې ټوپک غاړې ته ابېده عمري

# هائيکو

چا هم پوهه نه کړله
دوه فته بس زمکه وه
څو تنه پرې مړه شوله

ketabton.com - The Digital Library



## هائيکو

ماغزه مو خراب شي په ځان نه پوهېږې
تاسو شراب وڅکئ نو بل شاني شئ
مونږه چې چاے وڅکو نو موډ مو ښه شي

## هائيکو

خدايه د هغو مې ملګرے مه کړه
چې په محشر به ورته داسې وائې
بېل شئ تري نن دا مجرمان مجرمان

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

د نمائش مقصد مې نه وي پکښې
تصوير او باسم کله کله دې له
وېمه که نه وومه نو ګوري به ئې

# هائیکو

چا ودي به پخپله پکښې راولې
وي که دي مسکن په شيش محل کښې نو
کاڼي په مرغو پسې بيا مه اوله

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

ورته صفا صفا مې وویئل چې
دواړه په یو ځای بانديي چرته کېږي
شپېلۍ وهمه ستوان نه شم خوړے

# هائیکو

په حرکت کښې برکت وي ټیک ده
خو د دے هرګز مطلب داسې نه چې
سړے کار پرېږدي او ګډا شروع کړي

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

وې ئــې د یــو لاس نــه خــو پــړق نــهٔ خبــږي
مـــا وے خبـــرهٔ دې پـــه ګـــل بدلـــهٔ
خـــو زمـــا کـــار څـــهٔ دے چـــې لاس پړقـــؤم

# هائیکو

منمـــــه رنـــــګ د دعاګـــــانو نـــــه وي
خـــو دعاګـــانې چـــې رنـــګ راوړي نـــو بیـــا
ډک شـــــي پخپلـــــه د رنګونـــــو نـــــه ژونـــــد

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

پوهــه يــواځې پــه تعلــيم کــښې نــه ده
پــه غــورځــېدو دې خــفه کــېږې څــه لــه
ژوند کښې تيندک خوړل هوښيار کړي سړے

# هائيکو

دا مــې همــت و چــې ثابتــه مــې کــړه
د حوصــلې بائيلــل مــې چرتــه زده و
شــوم بريــالے د ناکــامو لــه وجــې

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

خلـــــــق خبـــــــروؤم پـــــــه دي
خـــــدا ے چـــــي درلـــــه نـــــه کـــــوي
پيـــــر بابـــــا بـــــه څـــــه وکـــــړي

# هائيکو

چـــي سياســـي وي او بيـــا داســـي وائـــي
د ګـــــورنر د راج ســــــتاينه کـــــووم
زه ورتـــه خـــدائيګو سياســـي نـــه وايـــم

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

یو درله په شا باندې سرکار ښه کلک ولاړ و
بل دې په لاسونو کښې ټوپک و زوروره
حالات به په وطن کښې خامخا خرابېده

ظلم ته به جبر ئې په جار وئیلې نه شو
مهر وو په خولو باندې د خلقو خاموشي وه
الزام ئې لګولو چې دنیا خرابېده

ستا پکښې کمے وو په محفل کښې مزه نه وه
تلم تري ،نو ملګرو ته مې داسې بهانه وکړه
څه ډېره یخه شوې وه، هوا خرابېده

ketabton.com - The Digital Library



لګیا وومه د ژوند د مصور سره په ژوند
تا له مې درنه کړلو جواب ستا د سوالونو
په ژبه مې راغلې وه، دعا خرابېده

هېڅ ورسره غم نه وو چې څه به ورپېښېږي
خبرې چې بې توله بې خدایه ئې کولې
الیاسه عقیده به ئې رېښتیا خرابېده

# هائیکو

لاړې پخوانۍ قیصې ئې ختمې کړې
دلته چې فېس بک او ټک ټاک راغله نو
نشته د چرګۍ په غاړه ناسته اوس

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

اور کــه مــې د کرکــې چرتــه مــړ نــه کــړو
مېنــه کــه مــې عامــه ،خدایــه! نــه کــړه نــو
دا بــه مــې ارمــان پــه زړګــي پــاتې شــي

## هائیکو

وېمـــــــه چـــــــې امـــــــن دې وي
مـــــړے خـــــو نـــــه یمـــــه چـــــې
خوبونـــــــه نـــــــه لرمـــــــه

ketabton.com - The Digital Library



# دوه هائيکوګاني

بيا مې څوک بې وخته راياد شوے دے
بيا مې زړېدو ته لږ زړه شوے دے
دا لا زه په کوم يو کېفيت کښې يم

طمع په ژوندون د چا نه نه ساتم
شکر دے چې لاس او پښې وهلې شم
ځکه لا تر اوسه په عزت کښې يم

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

اور به د هجران چرته سېزلې وي
چاله چې هم مور په ژړا ووينم
زه هم غرېو نيولې شمه وژاړم

زه پښتون خو ټوله مېنه مېنه يم
ولې د دنيا سترګو کښې بد يمه
څنګه به چې ښکلې شمه وژاړم

ته هم سرګردانه يې په دې باندې
ولې مو په خاوره امن نه راځي
زه هم غلې شمه وژاړم

ketabton.com - The Digital Library



خــدا ے دې دوه مئــين چرتــه جــدا نــه کــړي
څنــګ چــې تــه ســوزېږې د فــراق پــه اور
زه هـــــــم ســــــوزېدلے شـــــمه وژاړم

بيــا پــه پښــنونخوا کښــې دهماکــه وشــوه
زه چــــې دا منحوســـــه خبـــر واورمـــه
يــــو دم ســـــاه نيـــــولے شـــمه وژاړم

دومـــــره پـــــري خالقـــــه مهربانـــــه يــــې
چرتــه چــې ورځــې اليــاس عــزت مــومي
داســــې چـــــې ښـــاغلے شـــمه وژاړم

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

شرط په اسلام کښې لګول حرام دي
په دین مئین یو شرط په دې لګوؤ
شرط لګول په دین کښې شته او کنه؟

# هائیکو

دا ځلې مې دې ته عبادت اووے
ځان پکښې ساتلو د دیکو نه مې
دا ځل په طواف کښې دومره ګڼه وه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

لــــړه شـــان ســـرکه اوبـــه تـــه واچـــوه
بیـــا تـــرې د مېـــږو پـــه لار چړکـــاو وکـــړه
ګـــوره چـــې د هغـــه ځایـــه ځـــي کنـــه

# هائیکو

تـــــه کـــــه خپلـــــې ګټـــــې لــــــه
زیـــــان رســـــوې بـــــل تــــــه نــــــو
مـــــا تـــــه منـــــافق ښـــــکارې

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

زه چې غریب ووم د چا هېڅ نه ومه
اوس چې مالدار یم کاکاجي د هر چا
پېسه ریښتیا په غره کښې لار اوباسي

# هائیکو

دے خبر د عبادته هډو نه دے
په طواف کښې د فېس بک په پاڼه راشي
دے سړي ته د عمرې اداب ایزده کړئ

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

هر چکر کښې د کتاب نه دعا لولې
يو سړے نه دې خبر هډو د دې نه
چې زحمت يمه جوړ شوے په طواف کښې

# هائيکو

حجر اسود ئې ښکلول ارمان دے
دغه ارمان پوره کېدلو لره
حاجي طواف کښې څومره تېل جوړ کړے

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

خونــد د جرګــو نــه راتــه تلــې ښــکاري
چــا چــې ســړه ډوډۍ کښــې نــه شــمېرلو
هغــه ســړے هــم فېصــلې کــوي اوس

# هائیکو

بزدلـــــه نـــــه یمـــــه چـــــې
کـــــه چرتـــــه ســـــخته راغلـــــه
زه بـــــه تـــــرې تېښـــــته کـــــووم

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

والله که پوهه ئې کړې
چې راشن خیال وي سړې
نو روشن خیال به نه شي

# هائیکو

په ناحقه مې دشمن وے ته جوړ کړې
بې تحقیقه بې دلیله به لګیا وم
اوس په خپلو کړو پښېمان یمه سړیه

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

هسي وائي سوچ زمونږ فراخه دے
ګوره ښځې تږي د علمونه نه
ځيني پښتانه ذهني بيمار خلق

ښکاري د پېسو خوند ئې اخستے دے
ښکاري د اسلامه ناخبره دي
رور وژل جهاد ګڼي مردار خلق

ګرځي تولـه ورځ چې لورغۍ کوي
مور او پلار ئې هم څه خبر نه اخلي
څنګه ورته اوويمه د کار خلق

ketabton.com - The Digital Library



ښـــکاري دوي د ژونـــد پـــه مطلـــب پوهـــه دي
مـــونږه کليـــوال کـــه پکښـــې مـــړه کـــړي هـــم
غلـــي وي څـــه نـــه وائـــي د ښـــار خلـــق

تـــګ کـــوي مـــزل کـــوي دنيـــا ســـره
مـــونږه د وهمونـــو نـــه بهـــر نـــه شـــو
ژونـــد کـــوي مـــزې کـــوي هوښـــيار خلـــق

هـره ورځ چـې وژنـي رالـه څـوک نـه څـوک
ذهـــن کښـــې فرعـــون لـــري پـــه څـــه وجـــه
ناســـت پـــه څـــوکۍ دغـــه د ســـرکار خلـــق

ketabton.com - The Digital Library



# قافیاتي هائیکوګاني

دا ولې در په در خاوري په سر یو پکښې مونږه
داولې مو شتمنه پښتونخوا ده رنګه رنګه
راپاڅئ واعظانو په دې ذکر کښې شامل شئ

داسوچ څومره ښائیسته دے دغه کار څومره خائیسته دې
چې خپل غمژن اولس ته د سیالۍ کړو لاره نېغه
زما سره زما په دغه فکر کښې شامل شئ

# هائیکو

قیصې د شېخ چلي دي راته نه کوي
ولې به ملنډې پورې نه کېږي
قام لره دوي کومه توره کړې ده

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

تـــا تـــه بـــه یـــاد ووم یـــا بـــه نـــه وومـــه خـــو
مـــا دې ارمـــان مـــا دې تکـــل کـــړے وو
پـــه دې تکـــل دې ســـترګې مـــه بـــدلوه

زه د موســـم بـــدلون زغملـــے نـــه شـــم
مخکښـــې نـــه وایـــه چـــې تیـــار اوســـه
داســـې پـــه چـــل دې ســـترګې مـــه بدلـــوه

دا ځـــل خـــو راشـــه وعـــده مـــه ماتـــوه
چرتـــه د زړه ســـودا مـــې جـــوړه نـــه کـــړے
داســـې هـــر ځـــل دې ســـترګې مـــه بـــدلوه

ketabton.com - The Digital Library



زه چې درګورمه ته هم راګوره
پرېږده چې یو بل نه لوګې شو داسې
لکه د غل دې سترګې مه بدلوه

د زړه سکون به مې لا چرته کتو
ښه ده چې ستا لیده کاته مې وشو
اوس په یو پل دې سترګې مه بدلوه

پښتونه اووایه پاڅېږې کنه
په شتمنۍ درله ډاکې اچوي
په دغه پل دې سترګې مه بدلوه

ketabton.com - The Digital Library



زه بــــه هـــم تـــا بانـــدې کتـــاب ولـــيکم
وې ئـــي زمـــا نـــه غـــټ ســـړے خـــو نـــه يـــې
پـــــه يـــــو غـــــزل دې ســــترګې مـــــه بـــــدلوه

## قافياتي هائيکوګاني

پـــه ډک محفـــل کښــې بلهـــا خلـــق وو خـــو
زړګـــے ئـــې ځـــان ســـره لـــــه مـــا نـــه وېـــوړو
ځنګـــه پـــرې مـــا ګمـــان د غـــل ونـــه کـــړو

ورتـــــه صـــــفا صـــــفا مـــــې ووئېلـــــه
زه بـــه ډغـــرې نـــورې نـــه خورمـــه خـــو
کـــه چرتـــه تـــا راســـره چـــل ونـــه کـــړو

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

که حوصله لرې چې
سختي زغملے شمه
خبر دے که فخر کوے

پښتون له کور ورانوے
زړه کښې دې ترس نشته
ظالمه کبر کوے

حق مې خپل وپېژندو
زه دې خلاف به يمه
څومره به جبر کوے

ketabton.com - The Digital Library



پښتونه ویښ شه کنه
پاڅه خپل حق اوغواړه
تر څو به صبر کوې

دشمن ته هیڅ نه وائې
د ورور په پښو سریه
ګوزار د تبر کوې

چې پښتانه رایو کړو
ډېر به خوشحاله شمه
که داسې امر کوې

ketabton.com - The Digital Library



الياسه هسې نه ده
په خلقو ګران يې ئكه
خازه او قبر كوے

## هائيكو

د سياست به درته ثه وايم خو
چې مفادات ئې لږ خطر ته مخ شي
دلته هله د كار خبرې وشي

## هائيكو

په شړه سر وو خو بس
خر مې ورته ګوډ وو نو
هېخ مې ورته نه ويئل

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

شکر چې جاګير نه دے
ژمې کښې نمر ناسته به
هم د خان په خوښه وې

زړه پرې زما صبر دے
نور به مې لا څه غوښته
ته چې مې په برخه وې

ته د سترګو يخ زما
تا به څنګه هېر کړمه
ته مې د زړه غوښه وې

ketabton.com - The Digital Library



وخـــــت چـــــې د رخصــــت راغـــــے
ښــــه دې شـــــه پـــــه مخــــه کښـــې
مـــــا تـــــه دې پـــــه مخــــه وې

ســــتا بــــه خيـــال کښـــې بـــل څــــه وو
زه اليــــــاس ريښــــــتيا وايـــــــم
تـــــه زمـــــا پـــــه نخښـــــــه وې

# هائيکو

اوبــو کښــې دننــه ئــې مــاحول خــراب کــړو
پــــه يـــو ســـړي مـــې مهـــے څـــه خـــوړلے
پــــه دوېمــــه ورځ ډنــــډ کښـــې ختــين ډزوي

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

د پښتنو په خاوره
په دې لوټ مار خاموشي
ما ته منظوره نه ده

څه نه څه شته دے شعور
لا پښتونخوا مې ګورې
دومره بې نوره نه ده

سېوري ته کېنئ زما
په قد کښې هاغه ونه
څه دومره ګوره نه ده

ketabton.com - The Digital Library



کیفیت د اسې ئې دے
هغه خفه نه ده خو
هغه مسروره نه ده

چرته به ناز ئې کوو
زړګیه نه پوهېدې
هغه مغروره نه ده

ساقي نظر وکړه لږ
خلا د ذهن زما
لا خو مخموره نه ده

ketabton.com - The Digital Library



زه دې بـــــــــــــــــزدل ګڼمـــــــــــــــه
وروړ لــــــه کـــــه پښــــــپې وهــــــې نـــــو
دا ګــــــــــوري تــــــــوره نـــــــــه ده

پـــــه پـــــردي جنــــګ کښــــې ګــــــوره
ســــــــرتوره شـــــــوي ښـــــــکاري
پښــــــــتنه حــــــــوره نـــــــــه ده

زه ورتـــــــــــــــــه لاره ښـــــــــــــايم
چـــــې پــــــاخي حــــــق وغــــــواړي
څـــــــه کـــــــه بــــــــاتوره نــــــــه ده

اينګـــــــــور دې لــــــــــور ده مـــــــوري
ظلــــــــم پــــــــرې ولــــــــې کــــــــوې
د کــــــــور مــــــــزدوره نـــــــــه ده

ketabton.com - The Digital Library



تعبیـــــــر ئـــــــې څنګـــــــه وکـــــــړم
خـــــوب کښـــــې الیاســـــه پـــــه تـــــا
څـــــــــوک لا حضـــــــــوره نـــــــــه ده

## هائیکو

دواړو پــــه خـــپل ځـــان داســـې تـــوکلي وو
زه شـــومه کـــه تـــه شـــوې خـــو بـــدل نـــه شـــو
دغـــــــــه انـــــــا ځـــومـــــــــــره زوروره وه

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

څنګه به کعبه جوړې
دغه کله یدل غواړي
لږ د خلقو زړه ساته

قام باندې که لوبې کړي
څنګ چې پښتونخوا کښې دي
داسې ئې اوده ساته

شر شدت به نه راځي
هر چا ته نېغېږه مه
واک په ژبه خوله ساته

ketabton.com - The Digital Library



پــــټ لـــــه شــــا ګـــوزار کـــوي
دلتــــــه مغـــــل خــــــپلو لــــــه
ځـــــان ســــــره نېـــــزه ســــــاته

لاس مـــــې درتــــــه لپــــــه کـــــړل
خـــــــــدايه دشــــــمنان زمـــــــا
ماتـــــه هــــــر ځـــــاے پــــړه ســــاته

يــــــه الياســـــــه خــدائيګـــــــو چــــې
ګـــــران بـــه شـــې هــــر چــــا بانـــدې
ښـــــکلي دي کـــــــړه وړه ســــــاته

ketabton.com - The Digital Library



# ازاد هائیکو نما نظم (بې حسي)

دلته چې قتل وشي
بیا خلق داسې وائي
یره زیاتې شوې دے

خو داسې نه کوي چې
پاڅي تپوس وکړي چې
دا قتل ولې شوے؟

دا قتل چا کړے دے؟
دا ئې په څه کړے دے؟
په شا ئې څوک ولاړ دي؟

ketabton.com - The Digital Library



چې لږ حساب ئې وشي
لږ ئې غندنه وشي
لږ ترې پوښتنه وشي

په ظالمانو د خدای
دا ظلم ولې کوئ ؟
د څو روپو د پاره

په کور دننه زمونږ
هم په حجره جوماتُ کښې
دا خلق ولې وژنئ

ketabton.com - The Digital Library



خو نه زمونږ د خلقو
غوښتنې دا سې نه وي
مونږه خفه غونډې شو

د غه غوغا زمونږه
د غه ژړا زمونږه
بس د يوې ورځې وي

بيا چې ستانه شو کور ته
د ژوند په خوند کښې ډوب شو
د ژوند په رنګ کښې رنګ شو

ketabton.com - The Digital Library



دغــــــه زيـــــاتې مــــــو هېـــــر شــــــي
د ژونــــــــد روزګـــــــار شــــــروع كــــــړو
دومـــــــره بــــــې حســــــه يــــــو چــــــې

دومـــــــره هــــــم نــــــه شــــــو كــــــوے
چــــــې بيـــــــا تپــــــوس وكــــــړو دا
يــــــــه ظالمـــــــــانو د خـــــــــداے

د بــــــــې ګنــــــــاه پښــــــــتنو
د بــــــــې اســــــــرې پښــــــــتنو
قتلونــــــــه ولــــــــې كــــــــوئ

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

ستا ذکر چې نه کوؤم نو څه وکړم
ته راته پخپله بانديې ووايه
غم کړي خپل بدل سرې په څه باندې

ټک له ګوتې مه ورورہ نو وبه شي
ما نه به تپوس که چا کولو چې
ژوند کښې خوري وهل سرې په څه باندې

زه ورته قسم دي چې حېران شمه
نا سته د جونګړې ئې هم زده نه ده
غواړي لوي محل سرې په څه باندې

ketabton.com - The Digital Library



وې بــه مــو شــعور ئــې را زده کــړے د ے
تــه ئــې دې څپلــو تــه خــو لــږ وګــوره
جــوړ مــو کــړو اتــل ســړے پــه څــه بانــدې

ځــان تــه ئــې هوښــيار هوښــيار وئيلــو بــه
خلکـــو پـــه خبـــرو غولـــولې وو
پوهــه کــړم شــډل ســړے پــه څــه بانــدې

دا د ښـــکلاګانو قتلـــول نـــه دي
خونـد کـوي قسـم د ے پـه شـين بـوټي کښــې
اوشــو کوي ګــل ســړے پــه څــه بانــدې

ketabton.com - The Digital Library



ته په اتلسم ترمېم پوهېږې نه
ته د وسائلو نه خبر نه یې
شور وکړي غوبل سړے په څه باندې

زه خو دې خبرې حېران کړے یم
خلق چې لېن دېن کوي په ژوند کښې نو
څټ کښې وهي خپل سړے په څه باندي

# هائیکو

دې کښې د حېرت هډو څه شته دے نه
دا دنیا روانه په حساب کتاب
شابه ځان د شمېر په علم پوهه کړه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

فکر ئې قوي به وي
علم چې د شمېر لري
خامخا هوښیار به وي

# هائیکو

په ایماندارو په قران کښې شته دے
مدد په صبر او مانځه وغواړئ
بې شکه خدائے د صابرانو سره

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

پوره پوره داخل شئ په اسلام کښې
د شېطان په لارو مه ځئ ایماندارو
بې شکه چې د شمن ستاسو ښکاره دے

# هائیکو

عقل راځي به په ټکرو خو وېم
ضروري نه ده چې ټکرې اوخورے
ځان پوهوو به د هوښیارو نه هم

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

يــه ايمانــدارو پــه قــران کښــې شــته دے
د خــدا ے درکــړي پــاک څېزونــه خــورئ خــو
کــه خــدا ے منــئ د خــدا ے احســان اومنــئ

# هائيکو

د خـــــدا ے د پـــــاره غريبـــــانو لـــــره
چـــې صـــدقه ورکـــړې نـــو مـــه ئـــې زبـــاده
خپلـــه ښـــېګړه دې بربـــاده نـــه کـــړې

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

د سکون د پاره ځانله هم څه وکړه
د الله در کښې که لوړ مقام دې خوښ وي
صدقه خېرات دې رور عزیز له ورکړه

# هائیکو

تېک ده چې د زړه نه زما خوښه وه
ژبې مې اقرار ورته و نهٔ کړو نو
ځکه خو بې مینې پاتې شوے یم

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

دا تپوس مو ونه کړو
زما دا ولې کمه ده
ستا دا ثنگه ډېره شوه

پلار ئې چا وژلے دے
دغه پېغله اوګوره
دا ځلې سر تېره شوه

دلته خاماران اوسي
ښه به وي بچې بچې
دلته که شمشېره شوه

ketabton.com - The Digital Library



يـــه ســـړيه څـــه پـــرې کـــړې
ســـر پـــرې ځانلـــه څـــه خـــوږے
بـــس خبـــره تېـــره شـــوه

ســـتا نـــه راتـــه ښـــه ښـــکاري
ســـتا غمونـــه اوګـــوره
بيـــا رانـــه چـــاپېره شـــوه

زه ئـــې بـــدنام کـــړے يـــم
نـــوغے بـــه ئـــې ورک کړمـــه
خدايـــه کـــه راګېـــره شـــوه

ســـتا نـــه زمـــونږ طمـــع ده
تـــه نـــه شـــې الياســـه نـــو
خلـــق کـــه بـــې خبـــره شـــوه

ketabton.com - The Digital Library



# مشاهيراني هائيکوګاني

داسې درياب نه دے چې
بند به په کوزه کښې شي
فکر د صاحب مې کړه

پرېږده چې غورځنګ شمه
خدايه اباسين سره
بيا چرته کاسب مې کړه

قام راويښول غواړم
خبر دے که زندان له ځم
فيض مې کړه جالب مې کړه

ketabton.com - The Digital Library



درد د قام زغمې نه شم
فکر بلوؤم ورته
درد مې کړه غالب مې کړه

چا چې غضب کړې دې
مال د کونډو رنډو نو
هاغو له غاصب مې کړه

شعر کښې د غنې په شان
ثه ثه مې وئيلي دي
ځار توبه تائب مې کړه

ketabton.com - The Digital Library



زه هم څه ليدل غواړم
لږ شاني په دين باندې
دا ځلې طالب مې کړه

چرته چرته ګرځم به
يه رحمانه سوال کوؤم
ته په خپل جانب مې کړه

زه الياس دعا کووم
اے د غرائب ربه
پوئے په عجائب مې کړه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو نما نظم
# پاڅه لږ غیرت وکړه

خلقـــو لـــه پـــه زړونـــو حکومـــت وکـــړه
ژونـد کښــې دې پکـار بـه شـي خـدمت وکـړه
پاڅـــــه لـــــږ غیــــرت وکــــړه

دا ځـــل ورتــــه یــــاد کـــړه ابـــدالي بابـــا
دا ځـــل کارنامــــه د پــــاني پـــت وکـــړه
پاڅـــــه لـــــږ غیــــرت وکــــړه

ketabton.com - The Digital Library



ژوند کښې سړے هر هر څه کولې شي
لوړه حوصله ساته همت وکړه
پاڅه لږ غيرت وکړه

مخکښې خو به هر وختې درتلمه زه
داخلې لږ ته راشه رغبت وکړه
پاڅه لږ غيرت وکړه

ته که په وطن کښې روزګار نه مومې
لاړ شه چرته بل خوا ته هجرت وکړه
پاڅه لږ غيرت وکړه

ketabton.com - The Digital Library



داسي سرعام دې استحصال کېږي
لږ خو دې پښتنه د عصمت وکړه
پاڅه لږ غیرت وکړه

څه د ژوند په ستونزو باندې هم وایه
څه د روایت نه بغاوت وکړه
پاڅه لږ غیرت وکړه

قام به درپسې نیتونه وتړي
ته ئې بیدارۍ له اقامت وکړه
پاڅه لږ غیرت وکړه

ketabton.com - The Digital Library



واړه پښتانه بې لارې شوي دي
دوی ته لار ښودنه د سمت وکړه
پاڅه له غیرت وکړه

ظلم به تر څو پوري زغمې په ځان
او دریږه ددې مخالفت وکړه
پاڅه له غیرت وکړه

هسې دې په حسد ځان سېزلې دے
ژوند وکړه لږ مینه محبت وکړه
پاڅه له غیرت وکړه

ketabton.com - The Digital Library



تابــه ئــې پــه ژونــد ســندري اوربــدې
ډم لــه هــم پــه قبــر غــتې ګمبــت وکــړه
پاڅــــه لــــږ غيــــرت وکــــړه

هســې کــه دسـيک غونــدې دې پربښــې وي
لــرې کــړه ورځــه پــرې حجامــت وکــړه
پاڅــــه لــــږ غيــــرت وکــــړه

هســــې بګتــــۍ نــــوري ونــــه وائــــې
شــعر کښــې صــفتونه د قــدرت وکــړه
پاڅــــه لــــږ غيــــرت وکــــړه

ketabton.com - The Digital Library



تا ته که ګناه وه په څه شخړه کښې
روغې له سوالي شه خېر منت وکړه
پاڅه لږ غېرت وکړه

تا پسې به سپکې سپورې نه وائي
نورو مشرانو له عزت وکړه
پاڅه لږ غېرت وکړه

ژوند کښې کامیابي په رورولۍ کښې ده
بغض نه په هر ځائے کښې نفرت وکړه
پاڅه لږ غېرت وکړه

ketabton.com - The Digital Library



داد پښتو ملک دے پام کوه ګوري
نن راته د شونډو په سر ست وکړه
پاڅه لږ غیرت وکړه

داسې بې ګناه به مو تر څو وژنې
غږ په ضد دد بربریت وکړه
پاڅه لږ غیرت وکړه

# هائیکو

دلته قدم په قدم وژړېږه
دا چې بونبر اوس کاڼي ښکاري
د دغه کاڼو لاندې څه څه نه دي

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

ښه به شو که ووايو
ستا د جنګ په لوبه کښې
زه ولې کردار شمه

مېنځ ته مفادات راشي
ته هم خودغرضه شې
زه هم طرفدار شمه

هلته بيا شريف شمه
وس چې مې ونه رسي
هله ايماندار شمه

ketabton.com - The Digital Library



خدايه يو ارمان مې دے
ژوند کښې چرته قام له
وايم که د کار شمه

تا غوندې ژبې به شم
ته چې راته نه ګورې
تا پسې بيمار شمه

ننګ رابانديې وکړه نو
ستا نه به لوګے لوګے
ستا نه به سم ځار شمه

حق ته که مو حق اووې
دا نظام به هم شي سم
زه به هم په لار شمه

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

زه به هم سیالي په ژوند کښې وکړمه
یو یو له به ګورم مسیحا پکښې
روغ که پرې بیمار شوه دا به ښه وشي

څو پورې چې دلته پښتانه به وي
دا سې سوزېدلي د نفرت په اور
یو بل نه که ځار شوه دا به ښه وشي

زه نشه کېدل د وجود نه غواړم
چرته خو به سپینې سپینې ووائي
زړونه که خمار شوه دا به ښه وشي

ketabton.com - The Digital Library



څــه نــه څــه عمــل بــه هــم كــول غــواړي
دا پـــه ګفتـــارونو بانـــدي نـــه كېـــږي
ښــه كــه پــه كــردار شــوه دا بــه ښــه وشــي

نـــن مـــې ورتـــه غلـــي شـــاني وويئـــل
بيـــاخو بـــه دې كلـــه كلـــه وينمـــه
ستا پــه رو مــې لار شــوه دا بــه ښــه وشــي

اوس هــم څــه كارونــه بــې پښــتو كــوي
دلتـــه څـــو بدرنګـــه مـــا ليـــدلي دي
وس هــم كــه پــه لار شــوه دا بــه ښــه وشــي

ketabton.com - The Digital Library



## هائیکو

نوبـــل انعـــام مـــو ورلـــه ځکـــه ورکـــړو
مـــونږ تـــه ئـــې پتـــه وه چـــې دغـــه ســـړے
ځـــي پـــه ایـــران کښـــې بـــه مرګونـــه کـــوي

## هائیکو

مرســـــته د وېښـــا تـــــر حـــــده نـــه غـــــوارم
مـــا ســـره کـــه مېنـــه پـــه ریښـــتیا لـــــرې
ســـنګ کښـــې ښـــه ښـــکاره راســـره ودرېـــږه

ketabton.com - The Digital Library



# هائیکو

مونږ پکښې څه ګټه ترلاسه کړله
د اسرائیل او د ایران په جنګ کښې
په فلسطین ظلمونه هېر کړه دنیا

# هائیکو

دیر ته امریکه رارسېدلي ده
څومره نادیده یو دا مې ولېده
ټوله پختونخوا پسې ورماته ده

ketabton.com - The Digital Library



# هائيکو

چې د جابرو دبدبه کمه کړي
چې غمازان هم په لړزان شي پکښې
الله دي ببرته داسې جنګ راولي

# هائيکو

هغه د رنګه دومره سپين نه دے خو
بيا هم چې غټه ده کرسۍ ورسره
اوس ورته داخلق سپين دادا وائي

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

وې به ئې سبا به ځم
خدايه سوال مې اومنه
خدايه چې سبا نه کړې

نيمه کښې دې پرېږدي به
ژوند کښې بې وفا سړې
چرته هم اشنا نه کړې

يا خو پرې ځان اومنه
يا ئې ته هم مه منه
ورک به شې کده نه کړې

ketabton.com - The Digital Library



حــــــق وایـــــــه دروغ پرېــــــږده
مـــــــا وې کـــــــه زمـــــــا منـــــــې
دا وکـــــــړه کـــــــه دا نـــــــه کـــــــړې

قـــــوم چـــــې دې قتلېـــــږي نـــــو
څنـــــګ بـــــه فکـــــر نـــــه لـــــرې
څـــــه رنـــــګ بـــــه ســـــودا نـــــه کـــــړې

تـــــا پســـــې بـــــه نـــــه کېـــــږي
ژونـــــد کښـــــې بـــــه د چـــــا پســـــې
چرتـــــه هـــــم خنـــــدا نـــــه کـــــړې

حـــــق نـــــه کـــــه مـــــخ اړوې
ورانـــــه بـــــه ټولنـــــه شـــــي
حـــــق تـــــه چرتـــــه شـــــا نـــــه کـــــړې

ketabton.com - The Digital Library



پښتونه لږ په لاره شه
چرته کښې خفه ګورې
زړه دې د بابا نه کړې

لږ که ځان خبر کړې نو
بیا به دې په حال باندې
خدائیګو چې ژړا نه کړې

وژنې دې څه نه وائې
ستا به ضمیر مړ وي نو
ته چې واوېلا نه کړې

سر په اوتو بوتو شوې
خدائے درنه هېر شوے دے
ذکر کړې ثنا نه کړې

ketabton.com - The Digital Library



تـــــه چـــــې امـــــن غـــــواړې نـــــو
تـــــه جـــــوړې ژونـــــد نـــــه غـــــواړې
تـــــه د ځـــــان پـــــروا نـــــه کـــــړے

ځنـــــګ دې وايـــــه خوښـــــه ده
ذکـــــر پـــــه شـــــعرونو کښـــــې
تـــــه د پښـــــتونخوا نـــــه کـــــړے

ښـــــکارې ښـــــه د ورايـــــه نـــــه
بيـــــا هـــــم لکـــــه خـــــال غونـــــدې
ســـــتوريه ځـــــلا نـــــه کـــــړے

زه اليـــــاس بـــــه دا اوويـــــم
وختـــــه پښـــــتونخوا رالـــــه
نـــــوره بـــــې نـــــوا نـــــه کـــــړے

ketabton.com - The Digital Library



# قافیاتي هائیکوګاني

دا چې ځلا ده دلفریبه په سوات
دا چې ښکلا ده دا چې یخ سېورے دے
دلته به ونو کښې شنې پاڼې وي نو

هغه په پا ما باندې میئنه وه خو
زما په غم باندې ونه ژړېده
چرته کښې زړه به ئې د کاڼي وي نو

زه دلته هر سړے بېدار غواړمه
غزل مې ځکه ترنم کښې نه وېم
بیا به بې هوشه پرتې زاڼې وي نو

ketabton.com - The Digital Library



# غزلیه هائیکو

تیندک خوري هر ځاے برابر شي سړے
د خداے په قهر چې اخته شي نو بس
په اوتو بوتو باندې سر شي سړے*

درته قسم خورمه رېښتیا وایمه
چې دې هم خیاله هم نظره وي نو
د زړه قرار د زړګي سر شي سړے

بل به پخلا کړے که خفه شو درنه
خو چې د دے سره به څه کوې بیا
که لږ د ځان نه مرور شي سړے

ketabton.com - The Digital Library



د خـــان بيګـــار دي وي، خـــو کـــار دي وي، نـــو
ځـــان تنګېـــدو تـــه چرتـــه پـــاتې نـــه کـــړے
نهـــر شـــي ځکـــه خـــو پـــه شـــر شـــي ســـړے

د پښـــــــتنو متـــــــل د کـــــــانړي کرښـــــــه
غـــابښ ورلـــه مـــه ګـــوره حاجـــت ئـــې نشـــته
هاغـــه چـــې لـــوے دې پـــه اخـــور شـــي ســـړے

چـې هـم پښـتون وي، او هـم ويښ وي، نـو بيـا
کـــه پـــه بـــابړه کښـــې شـــهيد نـــه شـــو، نـــو
دا ځـــل بـــه ښـــکار د خـــړ کمـــر شـــي ســـړے

زه درتـــه ســـوال کومـــه د شـــعر پـــه ژبـــه
خدايـــه! لـــږ کـــم کـــړه زور د هاغـــه خلقـــو
چـــې پـــه بـــې وســـو زورور شـــي ســـړے

ketabton.com - The Digital Library



تــش پــه خبــرو بانــدي چرتــه کېــږي
وطــن بــه هلــه رڼــا کېــږي زمــونږ
تــورو تيــارو کښــې چــې ســحر شــي ســرے

چــې بيــا پــه ګوتــه بانــدې نــه پټېــږي
خدايــه !کــردار د اليــاس داســې کــړه چــې
شــپه کښــې قمــر، د ورځــې نمــر شــي ســرے

۲۹ جولائي ۲۰۲۵ - دمام سعودي عرب

*ګران ملګرې پروفېسر دستار يوسفزي زما د دې کتاب په سېرېزه کښې د غزليه هائيکو په اړه ليکلي دي چې دغه هايکوګانې غزليه نه دي، ځکه چې د غزليه د پاره مطلع او مقطع ضروري وي. د ګران ملګرې پروفېسر دستار يوسفزي صېب د دغه ليک د لوستو نه پس ما دغه غزليه هائيکو هم وليکله په کومې کښې چې د وړومبۍ هائيکو وړومبۍ او وروستۍ مصرعې په يو شان قافيې کښې دي. د ملګرې پروفېسر دستار يوسفزي مننه چې دغه اړخ ته ئې هم زما پام راوګرځولو

ketabton.com - The Digital Library



# غزليه هائيکو

څيـــري کـــړم ګريـــوان خبـــرې واورمــــه
زمکـــه کښـــې پـــرې خلـــق يقـــين نـــه کـــوي
زه چـــې د اســـمان خبـــرې واورمــــه

دلتـــه اوس د غـــم د پاڅـــه غـــم راځـــي
خدايـــه پښـــتونخوا بانـــدي مـــې څـــه وشـــو
هـــر ځـــل د تـــاوان خبـــرې واورمــــه

مـــا ئـــې پـــه بـــونېر کښـــې کـــانې ولېـــدې
ســـمه ســـاه ډوبـــې رابانـــدي راولـــي
اوس چـــې د بـــاران خبـــرې واورمــــه

ketabton.com - The Digital Library



مـــــونږ ګنـــــې منـــــزل تــــه رســــېدلې وو
لار کښـــــې راتــــه خپلــــو لار نیــــولې وه
ژاړم د کـــــاروان خبـــــرې واورمـــــــه

دلتــــه د ســــپرلي پــــه راتــــګ څــــه کــــوؤ
دلتــــه ګــــل کېــــدو تــــه غــــوټۍ نــــه پرېــــږدي
څنګــــــه د خـــــزان خبـــــرې واورمـــــــه

کښــــېنئ د ایمــــــان یقــــین خبــــرې دي
زه ځــــې د ایمانــــه ښــــه خبــــر یــــم خــــو
کښــــېنم د ایمــــــان خبـــــرې واورمـــــــه

ماتــه احساســات پکښــې ښــکاره شــي خپــل
څــوک چــې هــم نامــه د امــن واخلــي نــو
زه پکښـــــې د ځــــان خبـــــرې واورمـــــــه

ketabton.com - The Digital Library



لږ شان دا ګیلې مانې به پرېږدمه
لږه تسلي که مې د زړه وشي
لږ به د جانان خبرې واورمه

ښه ترینه خبر یمه دشمن مې دے
بیا ئې هم کارونه د مرضۍ کوؤم
څنګه د شیطان خبرې واورمه

ما ته د قسمت نه مرور ښکاري
هغه خوش ګپې پکښې اوس نشته دے
زه چې مې د ګران خبرې واورمه

تا سره چې وي الیاس خوشحاله وي
رامې شې په ژبه باندې خدا ے مه که
ستا چې د هجران خبرې واورمه

ketabton.com - The Digital Library



## هائيکو

خدايه دې له اسمانه راګوزار کړي پرې
تندر يو بېخي د بشونې په شان
څوک چې پښتونخوا کښې پښتانه وژني

## هائيکو

لوي يم د ماشوم په رنګ به نه وايم
الوبال ئې ټول ګورې په تا باندې
وس که زه قصدن څه خطا وکړمه

## هائيکو

مخکښې به مو منډې کړې چې خدايه خېر
وران مې پکښې خپل کونړ لېدلي دي
وس چې زلزله شي په ژړا شمه

ketabton.com - The Digital Library

# څه يوه قيصه خونه ده

هائيکو چې د کله نه د پښتو ادب په دُرشل قدم ايښودے دے نو د بدلون چپې ئې په ټول وجود کښې را پورته شوي دي. دې انقلاب پښتنه هائيکو کښې په هُنروانه او موضوعاتي دواړو سطحو ځانګړتياګانې را وستلې دي دا يقيني خبره ده چې پښتنه هائيکو د دُنيا نه په فرق ده.

ښاغلي محمد الياس صاحب چې کله د هائيکو تخليق ته ملا وتړله نو هائيکو خپل ځانګړې خوند رنګ را پيدا کړے وۀ او هُنر ئې د تعين د ګنو پړاوونو نه را تېر شوے وۀ بيا هم زمونږ ښاغلي هائيکو نګار د تقليد لاره خپله نۀ کړه بلکې د هائيکو د معلوم او مروج اوزونو نه ئې جُدا لارې خپلې کړې.

يقيناً دا سې کول يوه لويه مطالعه او تخليقي جُرات غواړي او دا جُرات ښاغلي هائيکو نګار کړے دے.

د ګران هائيکو ليکونکي هائيکوګانې متوازي الاوزان ضرور دي خو بحر ئې بدل دے. دا بحر د ښاغلي ايجاد نۀ دے خو انتخاب ئې ضرور دے. الله پاک دې وکړي چې د هائيکوګانو دا مجموعه خپل اهداف تر سره کړي.

**ډاکټر اظهار الله اظهار**

پروفېسر اردو څانګه

اسلاميه کالج پوهنتون پېښور

COVER DESIGN
SAJJAD ROGHANI

ګران خپرندويه ټولنه

GRAN PUBLICATIONS

Email: gransamiullah@gmail.com
0345-9523153 / 0304-5241487

ISBN 978-627-7671-32-7
9 786277 671327

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*